مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد هارون ستانکزی ۲۰۱۸/۰۵/۲۶

دولت دې جدي ګام پورته کړي

ډېرو خلکو د 2014 یا ۱۳۹۴ کال ولسمشریزو ټاکنو کې ځکه محمد اشرف غني ته د ولسمشرېه توګه را یې ورکړې چې عمومي باور په دې ور ټول و هغه ډېر جدي او په کار پوه سړی دی. دا چې نورې کېسې را ووتې ، ګټونکی او بایلونکی اعلان نه شول، ټاکنې دوهم پړاو ته ولاړې، حریف یې د افغانستان د پاشلو ګواښونه وکړل ا و داسې نور ډېر موارد، په هغو مو کار نشته، خلکو او د هغوي مقدسو رایو ته ډېر سپکاوی وشو، په عامو خلکو کې خو پرېږده په مطبوعاتو کې حتی ځینې کسان او په اصطلاح خبریالان وینم چې خپلو ورځنیو چارو کې طرف دي، هره مرکه، خبر او رپوټ یې چې ګوري په یوه طرف تللی وي، دقت، توازن او د ژورنالیزم نور اړوند معیار ونه اصلا له پامه غورځیدلي، بس د خپل او خپل ټیم د غړو د زړونو تشولو لپاره داسې څه تر سره کوي چې د یوه بې پرې خبریال او رسنۍ لپاره اصلا لوی ناورین دی.

له یوه خبریال سره مې بحث په دې و چې د ۲۰۱۴ کال ولسمشریزو ټاکنو بایلونکی څوک و او چا وګټلې، ه غه د اجرایی رییس یادونه وکړه ویل یې هغه ډېرې رایې یې ګټلې وې او لومړني پړاو کې یې خبره یو طرفه کړې وه، هغه ولسمشرۍ ګټلې وه، ویل مې ثبوت، ویل یې نه یې لرم، ویل مې یو منطقي دلیل ویل یې خوست کې سل ز ره کسان ژوند نه کوي خو څلور سوه زره رایې لري.

هغه کیسه را یاده شوه چې د ټاکنو په مهال د خوست یوې ولسوالۍ کې پېښه شوې وه. یوه کس په لرې پر تې سیمه کې خپله مور د ټاکنو په ورځ له لاسه ورکړې وه، هغه د دې پر ځای چې جنازې ته بند وبست وکړي، د کورنۍ غړو ته ویلي و چې خبره همدلته پرېږدئ، زه او تاسو ټول د رایو ورکولو مرکزونو ته ځو چې رایې مو استمال کړې او خلکو هم دغه کار وکړ، اعلانوو چې مور مې په حق رسېدلي خاورو ته یې د سپارلو تیاری ونیسئ . دا څومره دردونکې وه چې د دې خوستې ویرجن او کورنۍ په رایو یې ملنډې ووهل شوې.

خوست اوس د شپېتو اویا کلونو مخکې خوست نه دی، خوست اوس په افغانستان کې د دوبی مثال لري، د غلته اوس ډېر پراختیایی کارونه شوي، خلک یې په زدکړو او عدم تشدد باور لري که وایی چې نه، راځه وګوره ګا وندې کې یې وزیرستانونه پراته دي، کوم ځایونه چې یو مهال د ترهګرو اصلي مرکزونه و او اوس هم هغلته په لوی شمېر ترهګر پراته دي خو د ډېورند کرغېړني کرښې دې غاړه خوست کې حالات نورمال دي، دغلته خلک ولسي ټرون لري. د ویس احمد برمک په مهال چې د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزیر و، د ملي پیوستون پروګرام کې خوست ۱۵۰۰ کلي ثبت شوی اوس نو راځه هر کلی وشمېره وګړي یې حساب کړه چې له یو میلیون اوړي او شاو خوا دوو میلیون وګړو ته رسیږي، له دې شاوخوا دوه میلیونې وګړو به څومره د شرم خبره وي چې سل زره رای ې راشي او په هغو هم د ناوړه رایو نوم کېښودل شي، بس ده نور همدومره زغم. هر څه حد لري او که حد رعایت نه شي هر څه له منځه تلای شي.

هغې خوستې ویرجنې کورنۍ محمد اشرف غني ته د دې لپاره رایې نه وې ورکړې چې په خپلو وینو ګټلی افغانستان یې داسې تر ملنډو لاندې راشي، غني چې اوس د ټولو خلکو د ولسمشر په توګه انتخاب شوی، باید یوه تاریخي پرېکړه وکړي، هر هغه حرکت باید وځپل شي، هر هغه لاس باید مات شي او هره هغه سترګه باید د سر له ککرۍ را ووځي چې په دې خاوره اوسي له خاورې او اوبو یې ګټه اخلي، ژوند په کې کوي او بیا را پاڅیږي او د خپلو بادرانو(افغان خاورې) تاریخي دښمنانو یعنې پاکستان، ایران، روسیې او نورو په اشاره افغانستان او افغانیت تر پوښتنو لاندې نیسي.

د بدخشان په مرکز فیض آباد کې یو سړی را پاڅیږي، یوه ډله اوباشان چې اصلا معلوم نه دي څوک دي، چا ته کار کوي او څه غواړي، غونډه کوي، د ملي سرود پر ځای چې اساسي قانون کې تثبیت شوی، د رباني د مهال ترانه خپروي، د هغه د کاواکه او بې واکه حکومت د داعش او طالبانو له بیرغونو جوړه جنډه د ملي بیرغ پر ځای پورته کوي او بیا وایی چې زه افغان نه یم زه خراسانی یم، ښه خراسانیه، ته بیا څه بد کوي چې دغلته ژوند کوي او وخت تېروي، ولې له داعش سره نه یوځای کیږي چې د خراسان جوړولو تصور ذهن کې لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دې خاورې چې اوسيږي، افغانستان نوميږي، افغانستان و او افغانستان به پاتې کيږي، هر څه روښان دي، هيڅ هم نه کيږي يوه ډله اوباشان هيڅکله نه شي کولی حکومت او افغانان وننګوي، حکومت دې خپله کړې پرېکړه په ډېر قاطعيت سره عملي کړي، خلک يې تر شا دي، هيڅ خبره هم نشته، له هر ياغي سره دې داسې چلند وشي لکه نوره نړۍ کې چې شوی، ښه او ژوندی مثال يې د پرېکنده رهبر رجب طيب اردوغان دی چې ترکيه کې يې د تېر کال د جولای تر ناکامې کودتا وروسته خپل نظام او حکومت له ياغيانو څرنګه پاک کړ. زما په اند د هغو وسلوالو مخالفينو او دې تالې څټو تر منځ لوی توپير دی، هغوي ښکاره دوښمني کوي، ښکاره اجنډا پر مخ وړي ، لوری او مرام يې هم معلوم دی، خو دا چې ما او تا سره د دې دری رنګه بيرغ تر سيوري لاندې ناست دي، په ځلونو له هغو ډېر خطرناک دي چې ځواکونه مو ور سره جنګيږي او د خپلې خاورې ساتنه کوي، هغوي يعنې د دې خاورې اصلي بچيان طالبان په افغانستان او افغانيت باور لري، هغوي د خپلې خوښې نظام لپاره وسله را اخيستې چې بايد داسې نه وای او غوټه يې په خولې نه بلکې په لاس خلاصه کړې وای.

دولت دې د خراسانيانو غږ داسې غلی کړي چې د تل لپاره بيا څوک په خپله ژبه د خراسان ويلو جرئت ونه کړي، دا خاوره د افغان ده، دغلته افغان ميشت دی او څوک چې وايی داسې نه ده، ولاړ دې شي او نړۍ کې دې يوه سيمه لاندې کړي بيا يې چې هر څه نوم پرې کېښوده، زړه يې. خو له آمو تر کندهاره، له پاميره تر هراته، له غزني تر فاريابه او هر لويشت لويشت خاوره افغانستان ده، دا لوی امپراطور احمدشاه بابا د خپل زړه په وينو ساتلې او بچيان به يې هم ترې په کلکه ساتنه کوي د هغو دې سترګې ووځي چې افغانستان ته په بده ګوري.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ